PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او زمونږ په پیدابښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زمونږ آیتونه درواغ ګڼلي مونږ به یې پورې په پورې داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از ابو ذر و معاذ بن جبل رضی الله عنهما روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود، از خدا بترس هر کجایی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنر محو نماید، و با مردم به شیوهء نیکو و اخلاق حسنه رفتار کن. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۳ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د چنګاښ ۷ مه د۱۴۳۳ هـ ق د شعبان المعظم ۷ مه د۲۰۱۲ م د جون ۲۷ مه

افغانستان، پاکستان را بخاطر ادامهء حملات راکتی هشدار میدهد

کابل، رسانه ها:
ریاست جمهوری افغانستان هشدار می دهد که اگر حملات راکتی پاکستان بر افغانستان متوقف نشود، این مساله را به شورای امنیت سازمان ملل متحد راجع می سازد.
ریاست جمهوری افغانستان از حکومت پاکستان انتقاد می کند که مسالهء حملات راکتی از خاک آن کشور بر افغانستان را جدي نگرفته است.
احمد ضیاء سیامک هروی معاون سخنگوی رییس جمهور کرزی می گوید که حکومت افغانستان در این مورد با حکومت پاکستان داخل تماس است.
آقای هروی به رادیو آزادی گفت که این مساله را از طریق مراجع دیپلوماتیک با پاکستان مطرح ساخته اند. اگر این تلاش های حکومت افغانستان نتیجه

بقیه در صفحه ۴

خلور اتیا کلنې اغزنې مبارزې رنګ راوړ محمد مرسي د مصر ولسمشر شو

د مصر په تاریخ کې داستبدادي حکومتونو لړۍ پای ته ورسېده

اخوان المسلمین تقریبا له ۸۴ کالو راهیسې په مصر او نوره نړۍ کې فعالیت کوي، او د مصر په معاصر تاریخ کې تر ټولو زیاتې قرباني همدې حرکت ورکړي، او په زرګونو غړي یې زنداني او یا اعدام شوي دي

دمصر دجمهوری ریاست لپاره دټولټاکنو نتائج دانتخاباتو عالی کمیسیون مشر فاروق له لوری اعلان شول، چې پکې محمد مُرسي د اخوان المسلمین نوماند د ۷۰۰ زره رایو په زیاتوالي دمصر په تاریخ کې دلومړي منتخب جمهور رئیس په توګه اعلان شو.
ټاکل شوې وه چې د انتخاباتو نتائج د تیرې پنج شنبې په ورځ اعلان شي، ولې دمصر

پاتې ۴ مخ

اعلام مخالفت جوانان حزب اسلامي ولایت بدخشان با ایجاد نظام فدرالي وتجزیه افغانستان !

ده هاتن از جوانان حزب اسلامي در ولایت بدخشان در مراسم روز جمعه ۲ سرطان سال روان ضمن اعلام حمایت وپشتیباني از کنفرانس اخیر شهر مزار شریف، مخالفت شدید شان را با تجزیه افغانستان و ایجاد نظام فدرالي در کشور بیان داشتند.
فخرالدین قاری زاده مسوول دعوت وتنظیم سازمان جوانان بدخشان ویکي از برگزار کننده گان این مراسم مي گوید: "جوانان حزب اسلامي در ولایت بدخشان طي بیانیه های تصریح داشتند که هیچگاه نظام فدرالي در افغانستان کارا نبوده وسبب از هم پاشیدن ملیت هاي مسلمان وبا هم برادر کشور مي گردد."

محترم عبدالهادي بیدار، محترم نورغا راشد، هدایت الله مشاهد، شمس الدین مصلح مسوول اتحادیه جوانان حزب اسلامي بدخشان وسایرین هرکدام پیرامون موضوع صحبت نموده واز موقف اخیر مخالفت حزب اسلامي افغانستان دررابطه به ایجاد نظام فدرالي در کشور حمایت وپشتیباني نمودند.
به گفته مسوول دعوت وتنظیم بدخشان در مراسم روز جمعه بیش از دوصد تن از محصلان پوهنتون بدخشان ، موسسه عالي تربیه معلم، دانش اموزان مکاتب و تعداد از مسولان سازمان جوانان از ولسوالي هاي همجوار ونزدیک به فیض آباد حضور داشتند ".
آقاي قاري زاده افزود: در قسمت دوم این

بقیه در صفحه ۴

تدریس در پوهنتون طب و پوهنځی انجنیری به زبانهای خارجی شود

کابل، رسانه ها:
سیمینار فرا خوان ملی بهبود نظام تحصیلات عالی، معارف و کاریابی پس از سه روز بحث ها فیصله نمود که مضامین در پوهنتون طب و پوهنځی انجنیری باید به زبان های خارجی تدریس گردد.
بیش ترین پیشنهادات که در این قطعنامه گنجانیده شده است، موضوعات اند که رییس جمهور کرزی در روز اول سیمینار فرا خوان ملی بهبود نظام تحصیلات عالی، معارف و کاریابی مطرح کرده است.
این سیمینار که سه روز قبل به هدف بهبود معارف، تحصیلات عالی و کاریابی راه اندازی شده بود، با ترتیب یک قطعنامه ۳۵ماده ی به روز دوشنبه پایان یافت.
پیشنهادات مهم در این طرح تدریس مضامین در پوهنتون طب و پوهنځی انجنیری به زبان های خارجی، تغیر سیستم امتحان کانکور و

بقیه در صفحه ۴

د پاکستان سفیر:

باید امریکا او طالبان د خبرو لپاره خپل دریځونه روښانه کړي

کابل، رسنۍ:
په کابل کې د پاکستان سفیر وایي په افغانستان کې سولې ته تر هغه وخته هیله نه شي کېدای چې امریکا او طالبان د خبرو لپاره ښکاره او پر له پسې هلې ځلې ونه کړي.
د پاکستان سفیر محمد صادق رویټرز خبري اژانس ته په مرکه کې وویل: "موږ فکر نه کوو چې دا ټولې مسلې دې د جګړې له لارې اوارې شي. باید سیاسي پروسه وي، خو ښکېلو خواوو ته پکار ده چې په سیاسي خبرو کې جدي واوسي."
ده همداراز وویل تر څو چې امریکا او طالبانو خپلې غوښتنې او وړاندیزونه واضح کړي نه

پاتې ۴ مخ

د فرعوني استبداد په کور کې د حق ډیوه

فدا محمد فایض

حضرت سید جمال الدین افغاني چې د خپلې ځانګړې پوهې او خدای ورکړی استعداد له مخې د استعمار او په ځانګړې توګه پیرنګي استعمار کوم ماهیت په زړې کې پېژاند او د هغې پر خلاف یې په ټوله مستضعفه نړۍ کې د مبارزې کوم تاداو کېښود د هغې اغېزې تر اوسه پورې را رواني دي. حضرت حکیم الامت علامه محمد اقبال لاهوري چې د سید له نظریاتو ډېر متأثر و په خپل یوه مناجات کې وایي:

یا رب درون سینه دل با خبر بده
در باده نشه را نگرم آن نظر بده
این بنده را که با نظر دیگران نزیست
یک آه خانه زاد مثال سحر بده

د حضرت علامه دا مناجات هغه څه دي چې سړی یې لومړی د حضرت سید جمال الدین افغان په نظریاتو کې ګوري، هغه ته خدای هغسې تیز ذهن ورکړی و چې په رینښتیا یې هم د هغه په سینه کې د یوه باخبره زړه ترجماني کوله، ...

پاتې دریم مخ

امریکا په افغانستان کې د خپل پوځ د خوراکي موادو لپاره ۱۰ ملیارد ډالرو قرارداد لاسلیک کړ

کابل، رسنۍ:
د امریکا پوځ په افغانستان کې د خپلو سرتېرو لپاره د خوراکي موادو قرارداد، چې ارزښت یې نږدې لس ملیارد ډالره کېږي، د دوبۍ له یوه شرکت سره لاسلیک کړ.
تراوسه پورې په افغانستان کې د امریکا پوځ ته یوه بل شرکت، چې (Supreme Foodservice GmbH) نومېږي، خوراکي مواد برابرول.
په راپور کې نه دي ویل شوي چې دا قرارداد د څومره وخت لپاره دی خو که د خوراکي موادو بیه یا ارزښت په پام کې ونیول شي، داسې ښکاري چې دا به د ډېرو کلونو لپاره وي.
د امریکا دفاع وزارت یا پینټاګون وایي چې له ۲۰۰۵ څخه تراوسه پورې یې په افغانستان کې د خپلو عسکرو د خوراکي موادو لپاره سوپریم ګروپ ته، چې په هالنډ کې ډېره دی او حاضردمه امریکایي سرتېرو ته خوراکي مواد برابروي، نږدې اووه ملیارد ډالره ورکړي دي.
په امریکا کې په دې ډېر انتقادونه شوي چې ولې باید په افغانستان کې د دوی د خواکونو

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېځلي نامه

محرومیت جوانان افغان از تحصیلات عالی در دانشگاه های ایران

کشورها با وضع تعاملات چه ایجاد سهولت ها و رواداری با دیگران باشد و یا وضع محدودیت ها در قلوب آنها جوانه محبت و دوستی را رشد و پرورش می دهند یا آنکه تخم کینه، نفرت و انزجار را می رویانند.

از همه جهانیان و خاصتاً همسایگان ما پوشیده نیست که از رویکار آمدن حزب دیموکراتیک خلق بحیث یک رژیم تحت الحمایه و حلقه بگوش اتحاد جماهیر شوروی وقت بر اریکه قدرت تهاجم مستقیم نزدیک به دو صد هزار ارتش سرخ به کشور ما، جنگ های داخلی آمدن طالبان و بالاخره ده سال اخیر پامالی افغانستان توسط نیروهای ائتلاف بین المللی ملیونها افغان در سراسر جهان و خاصتاً دو کشور همسایه ایران و پاکستان آواره اند این مهاجرت ها که عمر آن تا سی و سه سال می تواند برسد از مهاجر نه تنها فرزند پیدا شده که عدهٔ به نسل سوم داشتن نواده هم رسیده اند.

ملت افغان از ایواء این کتله مهاجر که در جهان بزرگترین تعداد آوارگان را تشکیل می دهند از کشورهای همسایه امتنان و شکران و سپاس همیشگی خود را اعلام داشته اند.

آنچه که هر افغان را می رنجاند اینست که کشورهای اروپایی با همه فشارهای اقتصادی و پذیرفتن ملیاردها یورو غرامت در برابر همدیگر قربانی می دهند و کیان اروپای واحد را زنده نگهمیدارند اما در میان دو کشوری که مشترکات عمیق تاریخی، فرهنگی، دینی، عقیدتی و لسانی دارند. مهاجری که تا به سی و سه سال عمر را در جمهوری اسلامی ایران که روزی مرز آن اسلام اعلان شده بود حق آنرا ندارد که فرزندان شان از نعمت تحصیلات عالی برخوردار گردند و به دانشگاه های جمهوری اسلامی ایران راه پیدا کنند.

در حالیکه در هیچ یک از کشورهای جهان اعم از اروپا، امریکا، افریقا و استرالیا پذیرفتن جوان افغان و یا از هر ملیتی که باشد از شمولیت به پوهنتونهای شان محروم نیستند، آنهائی که با پیمودن راه های خیلی ها طاقت فرسا و پر خطر پای شان به این کشورها برسد زمانی مهاجرت آنها پذیرفته شود بدون پرداخت اجرتی نه تنها دروازه های پوهنتونها بروی شان باز است، که به شامل شدن به پوهنتون تشویق هم می شوند.

با آنکه در فامیل بزرگ جهانی بالا رفتن سطح آگاهی و دانش برای همه کشورها خالی از مصلحت نیست، هر یک از کشورهای متمدن جهان بتواند در پائین آوردن میزان جهل جهانی دور خود را ادا کند خدمت بزرگی در آوردن صلح و ثبات در این سیاره ایفا نموده اما در میان کشورهای همسایه با این همه مشترکات مسؤولیت چند برابر بالاتر قابل درک است زمانی جمهوری اسلامی ایران که با قربانی هزاران جوان مسلمان این کشور و آرزوهای همه مسلمانان جهان در نقشه جهان جای یک نظام طاغوتی ژاندارم تجاوزگرانه غرب در منطقه را اشغال نموده است چگونه فرزندان کشور همسایه مسلمان خود را از نعمت تحصیل محروم گردانند؟

زمامداران جمهوری اسلامی ایران آگاه تر از آنند که توجه شان به این نقطه عطف گردد و انتظار ما در احساس مسؤولیت نزد آنها بمراتب بیشتر از آنست که تصور گردد آنها که بیداری کشورهای اسلامی را جشن می گیرند و از بهار عرب مسؤولانه استقبال مینمایند و خود را پیشتاز دعوت بزرگ اسلامی در این سیاره می خوانند چگونه فرصت تحصیل را برای جوانان کشور همسایه شان تنگ سازند. چگونه می توانیم پذیریم که زمام داران کشور بزرگ جمهوری اسلامی ایران از خروشانی اثرات تحصیلات عالی در فرزندان بیش از یک ملیون مهاجر افغان که در کشور شان بسر می برند بی تفاوت باشند.

لازم می دانم که بحیث افغان آنهم افغانانی که در بیست و دوم دلو ۱۳۵۷ در لباس نمی گنجیدیم که انقلاب اسلامی در کشور همسایه ما به پیروزی رسیده و همه فراز و نشیب های کرونولوژیک پیروزی انقلاب اسلامی را در ایران تا امروز با عشق و علاقه تعقیب نموده و در غم و شادی آن شریک بوده ایم انتظار داریم جمهوری اسلامی ایران با توجه به مسؤولیت های شان در قبال نسل جوان مسلمان و خاصتاً کشور همسایه خویش، همه افغانهای را که به تعلیم و تحصیل عالی علاقمندې دارند، راه آنرا فراهم سازند تا با خاطراتی مملو از اکرام و اعزاز پس از نیل به این هدف به کشور شان برگشته و جزء سپاهی گردند که پرورش یافته در آغوش اسلام انقلابی در برابر جهل و مفاسد در اعمار کشور همسایه جمهوری اسلامی ایران پیشگامانه حصه گیرند و باینصورت زبان شکوه و شکایت آنها را از محرومی ایکه با رادیوهای بیرونی در میان می گذارند خاموش سازند اثرات سؤ ایرا که این شکوه ها در قلوب افغانهای همسایه، هم کیش، همزبان و همفرهنگ شان رخنه می کند سد نموده باشند.

اسلام د فساد پر خلاف د جهاد امر کړی دی نه د غفلت او مصلحت پالنې

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598

محمد خلیل

د فساد جرړې هغه چارواکي ویستلی شي چې له فساد سره حساسیت او کرکه ولري ټول عمر یې حلال او پاک رزق خوړلي وي، وینه او غوښه یې له حرامو، نه وي تغذیه شوې، له حرامو کړنو او خوراك ځناك څخه داسې کلکه ډډه کوونکي وي. لکه چې د مردار شوي څاروی له بوی ناکې او خوسا غوښې څخه کوي. ضمیر یې پاك او بیداره وي زړه یې اصلاح او د ایمان په رڼا روښانه وي.

له خپل قانون، ولس او خاورې سره یې بې کچه مینه وي، خپل ځان یې د قانون، ولس، عقیدې، خاورې او استقلال له پاره وقف کړې وي، د قیامت دهغې ورځې له سخت حساب او کتاب څخه ویرېدونکی وي چې د خیر او شر د ذرې ذرې پوښتنه ترېنه کېږي.

د اسلام د سپېڅلی دین اصل روح دا دی چې د ځمکې په سر د فساد جرړې وباسي د ظلم او جبر څواکونه زیرو زبر کړي او پر ځای د عدل، انصاف او امن فضاً حاکمه کړي خو ډېر افسوس چې د افغانستان په ډېرو وګړو کې داسې کلك ایمان پاك ضمیر او له خپل الهي قانون سره د زړه له تل نه مینه نه ده پیدا شوې چې یواځې او یواځې د خدای له ویرې له هر ډول فساد او ګناهونو څخه ډډه وکړي، ایمان، تقوی او د قانون احترام هغه غښتلی بنسټونه دي چې یو انسان له ګناهونو او کرغېړنو کړنو څخه منع کوي لکه د محمد صلی الله علیه وسلم په یو مبارك حدیث کې راغلي چې د ایمان مثال دهغه مهار په څېر دی چې یو سرکښ څاروې له خپل خاوند نه تښتېدو ته نه پرېږدي څکه خو محمد صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کې پوره دیارلس کاله ددې خبرې کوښښ وکړ چې د خپلو ملګرو په زړونو کې د ایمان جرړې مزبوتې او د الله جل جلاله ویره پکې داسې ځای پر ځای کړي چې هر وخت او په هر ځای کې یواځې او یواځې الله جل جلاله پخپل نظر کې ونیسي او دهمغه د لارښوونې مطابق خپلې ورځنی چارې پرمخ بوځي، له بده مرغه په افغانستان کې د ایمان او عقیدې په اړه زیات زیار نه دی ویستل شوي د ایمان او عقیدې شرائط نه دي ښودل شوي ډېری وګړي د توحید او رسالت کلمه خو وایي مګر په دې خبره نه پوهېږي چې دغه کلمه له ما څه غواړي؟ آیا یواځې په خوله کلمه ویل بس ده او که دهغې په معنی پوهېدل او پر هغه عمل کول هم ضروري ده؟ آیا یواځې په خوله د الله تعالی کتاب قرآن کریم منل شرط دی او که دهغه په لارښوونو عمل کول هم له بنسټیزو شرطونو څخه ګڼل کېږي؟ آیا یواځې د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت اقرار کول ضروري دی او که دهغه پر سنتو هم عمل کول هم اړین دي؟ آیا هغه څوك چې د الله تعالی کتاب قرآنکریم او د محمد صلی الله علیه وسلم د احادیثو په شتون کې بیا هم خپلې پریکړې قومي رسم رواج او یا هم د بل قانون له مخې کوي هغه مسلمان او مؤمن پاتې کېدلې شي؟ ! که پاتې کېدلې شي نو د الله تعالی ددغه څرګند اخطار په څواب کې څه ویلی شي چې فرمایي: هر هغه څوك چې د الله له لوري نازل شوي کتاب قرآنکریم باندې خپلې فیصلې او پریکړې ونه کړي نو هغوی کافران دي.

زموږ د زیاترو افغانانو ستر مشکل دا دی چې له خپل ایمان او عقیدې نه ناخبره یو، ځانو ته مؤمن خو وایو مګر د ایمان له تقاضا نه ناخبره یو، خپلو ځانو ته د الله بنده ګان خو وایو مګر د الله د بنده ګۍ پر معنی او مفهوم نه پوهېږو، ځانو ته مسلم خو وایو مګر د مسلم له تعریفه خبر نه یو چې مسلم څه ته ویل کېږي؟ ځانو ته د محمد صلی الله علیه وسلم امتي (ډله) خو وایو مګر په دې مو ځان نه دی پوه کړي چې د امتي کېدو مطلب څه دی او دا له مونږه څه غواړي؟

په هېواد کې چې د قانون د نه تطبیق په اړه کوم شکایتونه کېږي ددې ستر لامل هم د قوي او غښتلی ایمان نشتوالي دی. قانون هغه چارواکي او قضایي ارګانونه تطبیقولې شي چې قوي ایمان او راسخه عقیده ولري، واقعاً د الله تعالی غلامي ته یې سرونه ایښې وي او په زړونو کې یې یواځې د الله ویره او مینه وي. د ایمان ثبوت په عمل سره کېږي څکه چې ایمان په زړه کې یو پټ شی دی چې دهغه تصدیق یواځې د نیکو کړنو څخه ترلاسه کېږي. که یو څوك په خوله څومره د ایمان چیغې ووهي او څومره د خپل ایمان د پوخوالي دعوه وکړي خو تر هغه چې د عمل په ډګر کې د خپل ایمان او عقیدې ثبوت د خپلو نیکو کړنو له لارې وړاندې نه کړي دهغه د ایمان او مسلماني دعوه څه ګټه نه لري څکه چې د اسلام سپېڅلی دین د بشریت له پاره ژوند تېرولو څرګند نظام او کړنلاره ده د یو مسلمان مسلماني او ایمان به هله د تصدیق جامه واغوندي چې پر دغه الهي قانون عمل وکړي او هغه د خپل ژوند کړنلاره وګرځوي.

افغانستان چې یو اسلامي هېواد دی او اساسي قانون یې هم د اسلام سپېڅلی دین دی عدلي او قضایي ارګانونه یې له بل هر چا تر غوږونو د فساد په ډنډ کې ډوب دي، که چېرته د یو هېواد عدلي او قضایي ارګانونه چې د مظلومو وګړو د انصاف آخري مرجعه ګڼل کېږي پخپله فساد، رشوت او درغلیو ته بډې وهلې وي، حق ته د باطل او باطل ته د حق سند ورکوي نو په هغه هېواد کې به د فساد پر ځای اصلاح څنګه راځي؟ ! د فساد او اصلاح ترمنځ توپیر کوونکي او د حق او باطل ترمنځ فیصله صادروونکی مرجعې خو همدا عدلي او قضایي ارګانونه دي چې ولس ورته د حق د ترلاسه کولو لپاره رجوع کوي. د عدلیې وزیر ښاغلي حبیب الله غالب د تېرې یکشنبې په ورځ د مرکز او ولایتونو د عدلي او قضایي رئیسانو په ګډ ورکشاپ کې وویل چې نور به په عدلي او قضایي ارګانونو کې د فساد د له منځه وړلو لپاره جدي مبارزه کوي او له دې وروسته به په دې برخه کې هېڅ غفلت نه شي زغملی. د محترم غالب صاحب له دې وینا نه د ارا په ګوته کېږي چې تر اوسه په عدلي او قضایي ارګانونو کې د فساد په اړه غفلت شوې او لدې وروسته به غفلت نه کېږي خو پوښتنه داده چې لدېنه وړاندې د کومو وجوهاتو او معذرتونه له کبله دا غفلت ترسره شوې؟ که چېرته له وجوهاتو او معقولو معذرتونو پرته غفلت شوې وي نو لومړی باید پخپله غالب او ددې په څېر نور ښاغلي محاکمه شي او که د کومو معقولو وجوهاتو له کبله غفلت شوې وي نو بیا دا پوښتنه مخې ته راځي چې آیا اوس نو هغه معذرتونه او له لاملونه له منځه تللي دي چې د عدلیې وزیر یې له غفلت سره مخ کړی و؟

د تېرې پنجشنبې په ورځ د هېواد ولسمشر ښاغلی کرزی هم دا ومنله چې خلکو ته مصلحتي بللم، هو زه مصلحتي وم خو نور به نه یم، هغه دا ژمنه هم وکړه چې لدې وروسته به اداري فساد سیمه پالنه، قوم پالنه، ډلبازی، د دولتي او شخصي ځمکو غصب، ټوپك سالاري او ناامني به نه وي، الله دې وکړي چې د ښاغلی کرزی او ښاغلی غالب دا ژمنې له مصلحت پالنې نه پاکې او د زړه له کومې وي، خو ولس اوس هم ویره لري چې هسې نه د دواړو ښاغلیو دا ژمنې هم په مصلحتونو ولاړ وي او په دې کې د ولس د قهر او غصې د سړولو کوښښ شوې وي. د هېواد، ولس، استقلال او عدالت په څېر حساسو مسائلو کې نه د غفلت کولو جواز شته او نه هم د مصلحت پالنې، بلکې په داسې مسائلو کې غفلت، تسامح او مصلحت پالنه ستره ګناه ګڼل کېږي څکه چې دا له فساد او فسادي وګړو سره نېغ په نېغه مرسته او هغوی ته قوت وربخښل دي، دا چې د ښاغلي کرزي په یولس کلنی حکومت کې فساد آخري پولې ته رسیدلي او د عدالت جنازه وتلې ده ددې یواځینی لامل همدغه غفلت او مصلحت پالنه ده، په داسې حال کې چې د اسلام ترڅنګ د نړۍ په هر قانون کې له فساد او فسادي کړیو په خلاف د جهاد امر شویدې نه د غفلت او مصلحت پالنې.

څرګنده خبره ده چې د فساد او فسادي عناصرو مخه هله نیول کېدای شي چې پر ضد یې قوي مبارزه او جرړې یې له بیخه وویستل شي او دا کار کمزورې ولس نه بلکې حکومت او عدالت یې په موثر ډول کولی شي څکه چې دواړه کافي قدرت او امکانات په لاس کې لري.

الله دې وکړي چې دواړه ښاغلي پخپلو ژمنو وفا وکړي او ډېر ژر د فساد په خلاف جدي مبارزه په لاره واچوي، ولس د چارواکو دغه نیك اقدام ته سترګې په لاره دي او په ډېره بې صبرۍ سره انتظار کوي چې هغه مبارکه ورځ به کله راځي چې چارواکي د ولس ارمانونه ترسره او د قانون په پلی کولو سره هېواد له موجوده ناورینونو او فساد څخه وژغوري.

د فرعوني استبداد په کور کې د حق ډیوه

شهید سید قطب (رح)

شهید امام حسن البنا (رح)

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

...هغه د خپل عصر له خلکو یو جدا نظر درلود؛ ځکه د ده د حیات شپې د انګریزي استعمار د اوج شپې وې نو ځکه خو یې هر چېرته د انګریزي استعمار پر خلاف ویده ضمیرونه را بیدارول او ویده شوي احساسونه یې تخنول.

که څه هم عثماني خلافت چې حضرت سید د خپل عمر وروستي شپې ورځې په ترکیه کې تېرې کړې په وروستیو وختو کې ډېرې ستونزې لرلې؛ خو له هغو ټولو عیبونو سره چې پیدا کړي یې وو د اسلامي نړۍ د یوه واحد مرکز په حیث د مسلمانانو د هیلو یو ځای و چې متاسفانه په ۱۹۲۴ کې یې د یهودي توطیو په نتیجه کې چې نړیوال کفر ورته یو لاس شو، سقوط وکړ او د اسلامي خلافت ځای یوه سیکولر نظام ونیو چې بنسټګر یې مصطفی کمال و چې له یهودو سره یې نږدې اړیکې لرلې او په ځینو روایاتو یې پخپله یهودي ریښه لرله؛ ځکه دې په سلانیک ښار کې زیږدلی و چې د هغه ښار نوي فیصده اوسیدونکي یهودان وو. په دې توګه د اسلامي خلافت شمع د نړیوالې کفري توطیې په نتیجه کې چې اوبه خور یې له نړیوال یهودیت نه کېده، د مصطفی کمال په لاسو مړه شوه؛ خو په ۱۹۲۸ کې یعنې د عثماني خلافت تر سقوط څلور کاله وروسته د اسلام د یوه بل ریښتني او مجاهد بچي حضرت امام حسن البنا (رح) په وسیله په مصر کې د اخوان المسلمین د اسلامي حرکت تاداو کېښودل شو. هغه مهال د مصر په شمول په ټوله سیمه کې د انګریزي استعمار سیورې غوړیدلی و، که څه هم چې په ۱۹۱۹ کې د افغانستان د مجاهد ملت په وړاندې د پیرنګي ښکیلاک ماتې د انګریزي استعمار ستنې لړزولې وې.

د اخوان المسلین اسلامي حرکت هم بې له شکه د افغان سید د نظریاتو تداوم و. سید د مختلفو دلایلو په وجه د یوه ګوند تاداو کېښنوولای شو؛ خو له افغانستانه نیولې تر هند، ایران، مصر، ترکیې او اروپا پورې یې د ویښتابه یو قوت رامنځته کړ. هغه مهال په مصر کې د یوه استعمار دښمن اسلامي ګوند تاداو ایښوول او خلک د انګریزي استعمار پر خلاف راپارول څه اسانه خبره نه وه، همدا لامل و چې د اخوان المسلمین د بنسټګر امام حسن البنا د شهیدولو لپاره توطیه جوړه شوه. امام شهید کړای شو؛ خو د هغه لارې د هغه د ریښتینو پیروانو له خوا دوام وموند، د اخوان المسلمین څانګې په زیاترو اسلامي هېوادو کې په تېره بیا په عربي هېوادو کې د هغو هېوادو له شرایطو سره سم جوړې شوې. اخوان المسلین اوس یو نړیوال ګوند دی، چې په مختلفو اسلامي هېوادو کې په مستقله توګه په مختلفو نومونو البته د خپلو هېوادونو له شرایطواو ظرفونو سره سم فعالیت کوي.

زموږ ګران هېواد افغانستان ته هم همدا اسلامي تفکر د هغو استاذانو په وسیله چې په مصر کې یې دیني زده کړې کړې وې او د جامعهٔ الاظهر فارغان وورااوړل شول، خو عملي پیل یې په ۱۳۴۸ کال د پوهنتوني ځوانانو چې په سر کې یې استاد عبدالرحیم نیازي واقع و او همدارنګه یو شمیر دیني علماو لکه شهید استاد محمد ابراهیم همیم، شهید استاد مولوی عبدالرب احدی وردګ او نورو له خوا وشو، چې هر یو پخپل وار په دې لار کې قرباني ورکړي او ډېری یې شهیدان شول، هغه کسان چې د وخت د طاغوتي نظام له منګولو ژوندي پاتې شول پاکستان ته په هجرت اړ شول او دا هسته یې هلته انتقال کړه، ځینې له حقایقو ناخبره او یا متعصب او د اسلامي نهضت مخالف کسان داسې فکر کوي چې دا د اسلامي نهضت هسته په پاکستان کې د پاکستاني استخباراتو تر څارنې لاندې جوړه شوه چې دا یو ډېر ظالمانه قضاوت دی او دا فقط له یوه ایدلوژیک تعصبه سرچینه اخلي، تر اوسه پورې هیڅوک داسې کوم سند نشي څرګندولای چې د افغانستان اسلامي نهضت دې له پاکستاني واکمنو سره د خپل هېواد د ګټو او استقلال پر خلاف کوم سند لاسلیک کړی وي، که وای نو لکه څرنګه چې روسانو د خلق دموکراتیک ګوند د مشرانو په باب اسناد خپاره کړل او واسیلي متروفین خو هغه مستعار نومونه هم افشا کړل چې له کاجي بي نه یې ماجب خوړ، همدارنګه د سی آی آی جنرالانو هغه کسان افشا کړل چې له هغو سره یې کوم جوړ جاړی کړی و او پیسي یې ترې خوړلې وې. که چېرې د ډاکټر نجیب استخباراتو هغه سند چې جنرال حمید ګل د ۱۹۸۸ د جون پر دیرشمه ضیاءالحق ته وړاندیز کړی و چې د افغانستان خاروه دې په پاکستان پورې وتړل شي، تر لاسه او افشا کړ، که چېرې د افغانستان د اسلامي نهضت د مشرانو په باب څه وای د هغو لحاظ یې هم نه ساته.

په هر حال خبره د اخوان المسلین وه اود افغانستان د اسلامي نهضت خبره په کې هسې د منځپیښې جملې(جملهٔ معترضه) په توګه راغله، اخوان المسلمین د جمال عبدالناصر، انوارالسادات او حسنی مبارک د جمهوري ریاستونو په دوران کې ډېرې سختې تېرې کړې، ناصر سوسیالیزم ته متمایل و او له روسانو سره یې نږدې اړیکې درلودل او د دې تر څنګ یې د دې لپاره عربي نیشنلزم ته لمن وهله، چې غوښتل یې د عربي نړۍ د یوه قهرمان په توګه راڅرګند شي. خو کله یې چې له اسرائیلو سره په جګړه کې ماتې وخوړه باد یې ووتل او پوکانۍ یې تشه شوه.

د ناصر د دورې له ډېرو لویو جنایاتو نه یو هم د مفسرا لقرآن استاد سید قطب رح شهادت و، کله یې چې هغه له کوره، بیوه ناروغ و او شدیدې تبې نیولی و، بیا یې چې زندان ته بوت پر نورو شکنجو سربیره یې په خپلو سپیانو وداړه، کله چې هغه په زندان کې د معالم فی الطریق کتاب ولیکه چې په پښتو ژبه د استاد محمد نسیم ستانکزي له خوا (د لارې مشال) په نامه ژباړل شوی او په فارسي ژبه یې په ایران کې د چراغې بر فراز راه په نامه ژباړل شوی نو د ناصر غوسه یې نوره هم راوپاروله او هغه د خپل عصر نابغه او لوی مفسر یې شهید کړ. همدارنګه د شهید سید قطب کورنۍ چې په مجموع کې کوم زحمتونه وګالل او یا د اخوان المسلمین نورو مشرانو او منسوبینو، د مصر د فرعوني نظامونو د مظالمو یو ستر داستان تشکیلوي. استاد عبدالقادر عوده چې د مصر تر ټولو لوی حقوقو پوه و، همدارنګه ډاکټر کمال سنانیری او په لسګونو او سلګونو نور شخصیتونه ټول د مصر د سفاکو رژیمونو د وحشتونو خوراک شول؛ خو دې ټولو ظلمونو او وحشتونو د حق ډیوه خاموشه نه کړای شوه، د حق کوم غږ چې د شهید امام حسن البنا (رح) له خوا په مصر کې اوچت کړای شوی و د مصري ولس د فرد فرد غوږو ته ورسېد او دا دی د حق هغه کاروان چې له ۱۹۲۸ نه یې خپل سفر په لوڅو پښو پر یوه اغزنه لاره پیل کړی و د ۲۰۱۲ د جون پر ۲۴ نېټه خپل منزل ته د رسېدو او د حکیم الامت حضرت علامه اقبال په وینا چې:

تیز ترک گام زن، منزل ما دورنیست

ربښتیا هم دحق دغه قافله که څومره هم پر مخ ولویده بېرته راپورته شوه او خپل مزل ته یې دوام ورکړ، تر هغې چې د لوی خدای (جل جلاله) په فضل خپل هدف ته ورسېده. اوس دې حقیقت ته پام کول په کار دي چې د انقلاب ساتل، تر انقلاب برې ته رسولو ته ډېر ګران دي، د اخوان المسلمین په مخ کې دا اوس هم بلا ستونزې پرتې دي که څه هم چې د مصر د نظامي شورا مشر مارشال محمد حسین طنطاوي د اخوان المسلمین بریالي کاندید دکتور محمد مرسي ته مبارکي ورکړه، دغسې امریکا، اسرائیلو او ملګرو ملتو هم د هغه په اړه مثبت غبرګون وښود خو له دې ټولو خبرو سره سره هغه د عبدالرحمن بابا په وینا چې:

دګریوان ځیړل منزل نه دی مجنونه
لا په لارکې ډېر د مینې مقامات شته

اخوان المسلمین پخپل ۸۴ کلن عمر کې ډېرې لوړې ژورې ووهلې، د مشقتونو انواع یې وزغمل او بیا هم د عبدالرحمن بابا په تعبیر: په دې عاشقي کې یې سترګې وشوې خو خبره دا ده چې دا نه د غرب پر زړه اوارېږي او نه د مصر د ګاونډي اسرائیلو، خو زموږ دعا ده چې لوی الله (جل جلاله) دې تر برې وروسته هم د دکتور مرسي او د ده د ګوند د ملګرو مرستیال شي، ځکه :

چې الله درسره مل نه وي رحمانه
که لښکرې درسره وي یک تنها یې

ډاکټر فطرت :

د وینې د تویولو پر ځای باید وینه عطیه کول ملي شي

د وینې د نړیوالې ورځې په مناسبت د افغانستان لپاره د ژوند ژغورنې ادارې (LSOA) پیغام

۲۰۱۲/۶/۲۰

په تېرو درې لسیزو کې د دې شاهدیو چې د مظلومو، محکومو او محرومو افغانانو وینه د نړیوال سازش له مخې و بهېده او له بده مرغه دغه لړۍ لا دوام لري، باید ژر تر ژره د وینې د تویولو دغه لړۍ ودرېږي او وینه عطیه کول داسې عام شي، لکه څنګه چې په دغه هېواد کې د وینې تویول عام شوي دي.

دغه څرګندونې د افغانستان لپاره د ژوند ژغونې ادارې LSOA مسئول ډاکټر فطرت رسنیو ته د وینې نړیوالې ورځې Blood Donor Day په مناسبت کړې دي.نوموړی زیاتوي چې افغانستان د هغو هېوادونو په لومړي کتار کې راځي په کومو کې چې د وینې د ضرورتمندو ناروغانو شمېره زیاته او د وینې عطیه کوونکو شمېره ډېره کمه ده، جګړیز حالت، غربت، لوړه د ښوونې او روغتیا د کچې کموالی، په کلتوري ډول د وینې عطیه کولو سره نا اشنایي، د مجهزو وسایلو نشتوالی، د فني او مسلکي کدرونو کمښت او د حکومتي چارواکو له خوا د وینې بانکونو باندې انحصار هغه څه دي چې ناروغان یې په روغتونونو کې د وینې او د وینې د نورو اجزاؤ د ناورین سره مخامخ کړي او د وینې د کمښت ستونزه یې لاپسې پیاوړې کړې ده. *

ډاکټر فطرت کاږي چې د مګرۍ په افغانستان کې د وړیا وینې ورکوونکي په سلو کې تر دوه فیصده څخه هم کم دي، چې له امله یې ډېری ناروغان د وینې د نشتوالي له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي او یا هم د وینې په پیدا کولو کې د ستونزو سره مخ دي، آن تر دې چې یو شمېر ناروغان د وینې او د وینې د مشتقاتو Plasma, Platelets د تطبیق لپاره ګاونډیو هېوادونو ته په تلو مجبورېږي، نوموړی وایي که د ټول هېواد په سطحه په سلو کې دوه فیصده افتخاري وینه ورکوونکي ولرو په زغرده ویلې شم چې په هېواد کې به د وینې د کمبود ستونزه له مینځه لاړه شي.

ډاکټر فطرت زیاتوي تر اوسه د عامې روغتیا وزارت په دې نه دی توانېدلی چې د یادې ستونزې مخه ونیسي، د وینې د بانکونو په اړه د عامې روغتیا وزارت پالیسي بیا کتنې او هر اړخیزه کېدو ته اړتیا لري، په دې معنی چې د روغتیا وزارت باید هغه د خیر ښېګړې ادارو ته چې غواړي د دولت تر سیورې لاندې په معیاري توګه ناروغانو ته وینه او د وینې نورې اجزاوې برابرې کړي، د کار او خدمت زمینه مساعده کړي ځکه چې د عامې روغتیا وزارت په یواځې مټ د دې وړتیا نه لري چې د وینې اړ ناروغانو ته په ټاکلي وخت وینه عرضه کړي، د درېمې نړۍ د نورو هېوادونو په څېر باید مدني ټولنې د دولت سره اوږه په اوږه کار وکړي تر څو په عامو وګړو کې د وینې ورکولو بهیر را ژوندی او ګړندی شي، نوموړي د نغوتې په ډول د کابل د وینې ملي بانک ته په اشارې سره زیاتوي چې نوموړی بانک د پینځو میلیونو وګړو د وینې اړتیا نه شي پوره کولای، ډاکټر فطرت وایي چې دوه کاله وړاندې د عامې روغتیا وزارت د وینې ورکولو نړیوالې ورځې په مناسبت اعلان کړی وو چې د فرانسې هېواد ورسره د پینځو نورو مجهزو بانکونو د جوړولو ژمنه کړې ده ولې د یادو ناروغانو ستونزه تر ډېره حده پر ځای پاتې ده.

د ډاکټر فطرت په اند د عامې روغتیا وزارت تر څنګ د ښوونې روزنې، لوړو زده کړو، اجتماعي او ټولنیزو چارو، ځوانانو، اطلاعاتو کلتور، د لوړو زده کړو مؤسسات، فرهنګي او مدني نهادونه، لوبغاړي او مطبوعات د وینې د کمبود په ورکولو کې ټاکونکی رول لوبولی شي، باید د عامه پوهاوي پراخ کمپینونه په دې لاره کې په کار واچول شي تر څو په ولایاتو، ولسوالیو آن تر کلیو او باندو پورې په خلکو کې د وینې ورکولو کلچر ژوندی او ځپانده شي.

د افغانستان لپاره د ژوند ژغورنې اداري LSOA مسئول ژمن دی چې د خپلو هېوادوالو د ښه صحت او درملنې لپاره د عامې روغتیا له وزارت سره پر ځای نه سترې کېدونکې هلې ځلې وکړي او هغه تجربې ورسره شریکې کړي چې په دې لاره کې یې تر لاسه کړي دي.

LSOA مسئول د وینې د آرزښت په آړه وآیي چې وینه د نورو آندآمونو په څېر د الله تعالی لوی نعمت دی چې نعم البدل نه لري او طبابت د دغه دومره پرمختګ سره سره په دې نه دی توانېدلی چې داسې یو ترکیب رامینځته کړي چې د وینې پر ځای کار وکړي، د وینې محتاج ناروغانو ته الله تعالی د روغو انسانانو په رګونو کې د وینې داسې چینې ایښې دي چې د وینې نیازمندو ژوند پرې خروب او د ژوند ډېوه یې د نهلیو ترودیمیو کې بله وساتي.

وینه عطیه کول د اسلام او طبابت دواړو له پلوه د پوره ارزښت وړ ده، د اسلام له پلوه ځکه چې زمونږ خوږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم مبارک به هم هر کال د ځان څخه وینه ایستله دا د دې څرګندونه کوي چې وینه د ځانه ایستل بدن ته ګټه رسوي، په حقیقت کې وینه ورکول صدقه جاریه ده، په قرآن کریم کې ارشاد الهي دي:

وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا

ترجمه: چا چې د یو انسان ژوند وژغورلو ګویا چې د ټول انسانیت ژوند یې وژغورلو(.

د طبابت له پلوه هم وینه ورکول د پوره اهمیت وړ ده، تجربو ښودلې ده هغه کسان چې د وینې ورکولو روږدي دي تر نورو ښه صحت لري.

ډاکټر فطرت وایي هغه کسان چې کومه روغتیایي ستونزه ونه لري HBV, HCV, HIV, VDRL, MP او وزن یې د پنځوسو کلوګرامه څخه کم نه وي، په کال کې درې ځله وینه ورکولی شي، په دې شرط چې عمر یې د اتلسو او پینځه پنځوسو کلونو تر مینځ وي، حامله ښځې او هغه میندې چې خپلو اولادونو ته شیدې ورکوي یا د میاشتې عادت په حال کې وي وینه ورکول ورته تاوان لري.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغانستان د نړۍ شپږم ناکام دولت

نړیوالو ورځپاڼو تر ډېره په افغانستان کې د منرالي ذخیرو پر وړاندې د ستونزو او د نړۍ د ناکامو دولتونو په لست کې د افغانستان د مقام په اړه مطالب خپاره کړي دي.
د نیویارک ټایمز ورځپاڼې، د افغانستان د منرالي ذخیرو څخه د ناوړه استفادې د اندېښنو په اړه تبصره کړې ده او په دې اړه یې د ولسمشر کرزي خبرې راخیستې دي.
نیویارک ټایمز لیکي، ښاغلي کرزي په دې ارتباط، چې ده ته نږدې کړۍ د ولس د منرالي پانګې د لوټ او تالان هڅه کوي، د یکشنبې په ورځ خبرې وکړې.
ده وویل، چې د انګلستان او بریتانې حکومتونو د امو دریاب په سیمه کې د تیلو د ذخیرې د قرار داد ملاتړ کړی دی.
نیویارک ټایمز همدا راز د کابل د حکومت او د "عبدالرشید دوستم" ترمنځ د امو دریاب په سیمه کې د تیلو د ذخیرو پر سر د جنجالونو په اړه خینې رپوټونو ته اشاره کړې ده.
نیویارک ټایمز لیکي، د افغانستان د ملي امنیت د شورا دفتر د دې میاشتې په پیل کې دلویې څارنوالۍ څخه غوښتنه وکړه، چې د جنرال «عبدالرشید دوستم» په ارتباط موجودې ادعاوې وڅېړي.
داسې ویل کیږي، چې ښاغلي دوستم د امو د دریاب په ساحه کې پر هغو چینایي انجینرانو فشارونه راوستي دي؛ چې د امو سیند په سیمه کې یې د تیلو د استخراج د پروژو مقدماتي کار پیل کړی و.
پر جنرال دوستم په غیر قانوني ډول د باج اخیستلو تور هم لګېدلی دی؛ خو ورځپاڼه وایي، چې جنرال عبدالرشید دوستم او د هغه حزب (جبهه ملي) دا ادعاوې رد کړې دي. د نیویارک ټایمز په وینا، جنرال عبدالرشید دوستم په شمال کې د ولسمشر حامد کرزي له عمده رقیبانو ګڼل کیږي.

دوی پر ولسمشر کرزي تور لګولی، چې د وطن ګروپ د ګټو د خوندي کولو هڅه کوي.
وطن ګروپ هغه افغاني کمپنی ده، چې ویل کیږي، د جمهور رییس کرزي په کورنۍ پورې اړه لري. وطن ګروپ په وروستیو کې د چین د تیلو له ملي کمپنی سره په ګډه د امو سیند په غاړه د تیلو د استخراج قرارداد ګټلی و. د نیویارک ټایمز په حواله، د جنرال عبدالرشید دوستم په ضد د ملي امنیت د شورا دې تورونو د امریکا د کانګرس د جمهوري غوښتونکي غړی "دانا روهرابکر" عکس العمل پارولی دی. روهرابکر پر ولسمشر کرزي شدید انتقاد کړی دی او ویلي یې دي، چې دا د فساد هغه نړۍ حلقه ده، چې ولسمشر تر څان را تاو کړې ده.
فارن پالیسي:
فارن پالیسي مجلې په وروستیو کې د ناکامو دولتونو یو لست خپور کړی دی؛ چې افغانستان په شپږم ځای کې دی.
فارن پالیسي خپرونه لیکي، په دې کې د تعجب ځای نه شته چې افغانستان په تیرو شپږو کلونو کې د ناکامو دولتونو دلست له پینځمې تر یولسمې کړۍ پورې ځای نیولی دی.
دې مسالې ته په پاملرنې، په افغانستان کې د ناکامو بنیادونو د جوړولو مساله د پرمختګ په حال کې پاتې کیږي.
خپرونه زیاتوي، چې په دې لست کې خبرداری ورکړ شوی دی؛ چې که چیرې نړیواله ټولنه په افغانستان کې پاتې نه شي نو د دې هیواد راتلونکې له شکست او ناکامي ده.
فارن پالیسي لیکي، نړیوالې ټولنې د شیکاګو په کنفرانس کې له افغانستان سره د مرستې ژمنه وکړه او هدف یې دا و، چې افغانستان دوامدار پرمختګ ته لاره پیدا کړي.
د فارن پالیسي خپرونې په لیکنه، د امریکا او افغانستان ترمنځ د اوږدې مودې ستراتیژیکو اړیکو د تړون د لاسلیک یو هدف دا و؛ چې

افغانستان، پاکستان را بخاطر ...

ندهد اقدام بعدی چه خواهد بود؟
معاون سخنگوی رییس جمهور کرزی به این پرسش رادیو آزادی چنین پاسخ داد:
"یکی از برنامه های حکومت افغانستان اینست که این مساله را با ناتو و با کشور هایی که معاهدهء استراتیژیک امضا کردیم و آنها حاضر به دفاع از تمامیت ارضی افغانستان اند، در میان بگذاریم.
افغانستان این موضوع را با جدیت از طریق شورای امنیت سازمان ملل متحد و هم پیمان هایش پیگیری خواهد کرد."
به اساس گزارش ها، در جریان چند روز اخیر صدها راکت از خاک پاکستان بر مناطق سرحدی افغانستان پرتاب شده اند.
به گفتهء شماری از ساکنان ولایت کنر، اکثریت این راکت ها در ولسوالی های سرکانی، دانگام و اسمار این ولایت اصابت کرده اند.
مقام های ولایت کنر گفته اند، در این حملات نزدیک به ده تن از باشنده گان کنر کشته و زخمی شده اند.
در اعتراض به همین مساله و آنچه تجاوز پاکستان بر حریم افغانستان خوانده شده، معترضان خشمگین به روز دوشنبه برای سومین روز پیهم در ولایت کنر به روی سرک ها ریختند.
ریاست جمهوری افغانستان می گوید، اگر نیروهای پاکستان واقعاً در این حملات راکتی دست ندارند، حکومت پاکستان باید جلو پرتاب این راکت ها بر افغانستان را بگیرد.

څلوراتیا کلنې اغزنې مبارزې ...

عسکري حکومت نه غوښتل چې نتائج د مرسي په ګټه اعلان کړي، ولې د ولس او سیاسي احزابو په فشار دې مجبور شول چې په پایله کې د انتخاباتو نتائج دعسکري حکومت دخوښې برعکس د مرسي په ګټه اعلان او په دې سره دمصر په تاریخ کې داستبدادي حکومتونو لړۍ پای ته ورسېده.
محمد مرسي څوک دی؟
دکتور محمد مرسي عیسی العیاط په کال ۱۹۵۱میلادی کال کې د عدوهٔ په نامه کلي کې چې د مصر په الشرقیه ولایت کې موقعیت لري دنیا ته سترګې غړولي دي، دقاهرې په پوهنتون کې یې انجینري پوهنځي سرته رسولې او په همدې پوهنتون کې یې دفلزاتو دانجنیرۍ په څانګه کې په کال ۱۹۷۸م کې دماستري سند ترلاسه کړی، او په کال ۱۹۸۲ کې یې دانجنیرۍ په رشته کې دجنوب کالفورنیا له پوهنتون نه د دکتورا سند واخیست. په ډیرو بهرنیو او عربي پوهنتونونو کې یې داستادي دنده ترسره کړې.
په ۲۰۱۱میلادي کال د اپریل په ۳۰مه نیټه د حریت او عدالت سیاسي ګوند چې د اخوان المسلمین له خوا تاسیس شوی درئیس په توګه انتخاب شو.
په کال ۱۹۷۷ میلادي کې داخوان المسلمین دنړیوال اسلامي حرکت سره روان او په کال ۱۹۷۹ کې ددې اسلامي حرکت غړی شو.
او له کال ۱۹۹۲ د اخوان المسلمین په سیاسي څانګه کې چې په همدې کال جوړه شوه په فعالیت بوخت شو.
په کال ۱۹۹۵ او کال ۲۰۰۰ کې دمصر پارلمان ته داخوان المسلمین په نمایندګۍ بریالی شو، او دنوموړي ګوند درسمي ویاند په توګه دمصر په پارلمان کې وګمارل شو.
محمد مرسي دوه ځله دحسني مبارک دواک پر مهال زندان ته لیږدول شوی دی، په لومړي ځل د ۷ میاشتو لپاره په کال ۲۰۰۶ کې زنداني شو، او ددویم ځل لپاره په کال ۲۰۱۱ میلادي کې د اخوان المسلمین له ځینې نورو مشرانو سره زنداني شو، چې ۵ میاشتې وروسته کله چې په مصر کې قیامونه پیل شول له زندان نه مخامخ د آزادۍ میدان ته راغی او له مظاهره کونکو سره ملګری شو.
دروان کال داپریل په ۱۷مه نیټه کله چې داخوان المسلمین دجمهوري ریاست نوماند شاطر دجمهوري ریاست له ټاکنو ګوښه کړای شو، محمد مرسي دهغه پر ځای نوماند شو، چې دټولټاکنو په لومړي پړاو کې محمد مرسي او احمد شفیق په لږ فرق سره ډیرې رایې تر لاسه کړې چې په دې سره دمصر دجمهوري ریاست انتخابات دویم پړاو ته ووتل او په دې پړاو کې دمرسي په مقابل کې دمبارک دنظام صدراعظم احمد شفیق پاتې شو، چې ددویم پړاو دپایلو په نتیجه کې د جون دمیاشتې په ۲۴ نیټه محمد مرسي بریالی اعلان شو. د اخوان المسلمین مرشد دکتور محمد بدیع له مرسي سره بیعت وکړ
د الحریهٔ والعدالهٔ دجریدې مسؤول مدیر احمد غانم په حواله دکتور محمد بدیع داخوان المسلمین مشر دکتور محمد مرسي داخوان المسلمین له بیعت نه آزاد کړ، ځکه چې هغه اوس دټول مصري ملت مشر دی او باید داخوان المسلمین مشر له هغه سره بیعت وکړي.
غانم زیاته کړه: بیعت په اخوان کې یو اصل دی چې د دې حرکت غړي یې له جماعت سره کوي، او اوس دظروفو غوښتنه داده چې مرسي دجماعت له بیعت نه آزاد کړای شي.
اخوانّ المسلمین تقریبا له ۸۴ کالو راهیسې په مصر او نړۍ کې فعالیت کوي، او دمصر په معاصر تاریخ کې تر ټولو زیاتې قرباني همدې حرکت ورکړي، او په زرګونو غړي یې زنداني او یا اعدام شوي دي، چې ددې حرکت بنیاد اینودونکی امام حسن البناء هم یو له همدې قربانیانو څخه دی.

اعلام مخالفت جوانان حزب ...

مراسم که شماري از بزرگان حزب اسلامي در بدخشان نیز حضور داشتند سازمان جوانان بدخشان موفق شدند که شوراي اجرایوي این سازمان را در بدخشان ایجاد نمایند.
مسول دعوت وتنظیم بدخشان مي گوید این شورا بیش از بیست عضو دارد و در این مراسم محترم هدایت الله مشاهد از ولسوالي ارگو به صفت رییس، محترم محمد خالد مبارز از ولسوالي کشم به صفت معاون، محترم نورآغا راشد از شهر فیض آباد به حیث رییس دارالانشاء، محترم شبیر احمد بلوچ از ولسوالي کشم به صفت مسول ارتباط با ولسوالي ها ومحترم شاه زمان واحد یار از ولسوالي اشکاشم به صفت مسوول مالي شوراي اجرایوي سازمان جوانان بدخشان رسما دریک انتخابات شفاف انتخاب گردیدند.
اقاي قاري زاده مي گوید "مصارف مالي این نشست را شماري از محصلان پوهنتون بدخشان برعهده داشتند".
مسوول دعوت وتنظیم سازمان جوانان بدخشان علاوه نمود: "ما إن شاء الله طي چند ماه اینده در تعداد از ولسوالي هاي ولایت بدخشان مراسم را به منظور انسجام هر چه بیشتر جوانان حزب اسلامي به همکاري بزرگان حزب اسلامي در ولایت بدخشان برگزار خواهیم کرد.

تدریس در پوهنتون طب و ...

چگونگی مساعد ساختن زمینه های کار برای جوانان می باشد.
عبدالله عبید وزیر تحصیلات عالی در پایان این سیمنار در مورد طرح های پیشنهاد شده چنین گفت: "به منظور جذب داوطلبان شایسته و لایق در موسسات تحصیلات عالی، با در نظر داشت ظرفیت جذب موسسات تحصیلات عالی، امکانات بودیجوی و سویهء تعلیمی فیصدی سه سال دوره ثانوی مکاتب بخاطر شامل شدن در امتحان کانکور در نظر گرفته شود، اواسط نمره شان باید کمتر از شصت و پنج درصد نباشد.
برای ارتقای ظرفیت تعلیمی و علمی و کیفیت تحصیلات عالی در رشته های طب و انجنیری وزارت تحصیلات عالی زمینه های تدریس به زبان های انگلیسی، فرانسوی و یا آلمانی را فراهم نماید."
سیمنار فرا خوان بهبود نظام تحصیلات عالی، معارف و کاریابی به ابتکار وزارت های معارف، تحصیلات عالی و کار و امور اجتماعی به هدف تغیر در نظام معارف، تحصیلات عالی و کاریابی تدویر شده بود.
وزیر تحصیلات عالی کشور گفت که قرار است طرح ترتیب داده شده از سوی این سیمنار جهت تصویب به رییس جمهور کرزی ارایه گردد.
همچنان در این طرح پیشنهاد شده است که موسسات تحصیلات عالی شخصی که تازه تاسیس شده اند در صورت پایان بودن کیفیت درسی شان باید با موسسات تحصیلات عالی خصوصی دیگر مدغم و منحل گردند.
در همین حال شماری از جوانان در کابل از این طرح پشتیبانی کردند. آنها می گویند که در حال حاضر سیستم معارف و تحصیلات عالی کشور مشکلات دارد و باید در سیستم ها تغیرات به میان آید.
شهلا رشید رییس پوهنتون خصوصی مریم در این مورد چنین می گوید:
"باید سطح تحصیلی ما با تحصیلات عالی کشور های دیگر هم سطح شود و با آنها یکجا گام برداریم، در پوهنتون های کشور های دیگر مضامین به زبان انگلیسی، یا جرمنی تدریس می شوند ما هم باید آن را تعقیب نمایم، در اول شاید کمی مشکلات داشته باشد، اما بعد این مشکلات حل می شود و نتایج خوب می داشته باشیم."
در مراسم افتتاح سیمینار، رییس جمهور کرزی سیستم معارف و تحصیلات عالی کشور را مورد انتقاد قرار داد و گفت که باید تغییرات در این بخش ها ایجاد گردد.
کهنه بودن نصاب تعلیمی در پوهنتون ها یکی از مشکلات عمده فرا راه تحصیلات عالی در کشور به شمار می رود.
امتحان کانکور موضوع دیگریست که گفته می شود همه ساله با جنجال ها و تقلب همراه بوده است.

باید امریکا او طالبان د خبرو ...

وي، تر هغو د سولې امکان نشته. ده د خبرو په باب د امریکا او طالبانو دریځونو ته په اشارې وویل: "د دواړو خواوو له لورې عدم وضاحت لیدل کیږي."
رویټرز خبري اژانس وایي چې له طالبانو سره د پاکستان نژدې او ژورو اړیکو ته په پام سره د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د پخلاینې لپاره د پاکستان رول خورا مهم دی.
د اوباما اداره غواړي چې د کرزي حکومت له طالبانو سره خبرې وکړي او یوې سیاسي روغې جوړې ته ورسېږي.
د پاکستان سفیر وویل، په افغانستان کې د سولې لپاره یوې سیاسي روغې جوړې ته اړتیا ده خو په دې برخه کې نه د امریکا او نه طالبانو دریځ روښانه دی.
په کابل کې د پاکستان سفیر، محمد صادق، چې په امریکا کې یې لوړې زده کړې کړې دي، وایي: «د امریکا له تورونو سره سره هیواد یې په افغانستان کې د سولې د موافقې ملاتړ کوي.»
پر پاکستان تور دی چې له طالبانو څخه د یوې وسیلې په توګه په افغانستان کې د خپلو اوږدمهالو ستراتیژیکو هدفونو لپاره کار اخلي.
پاکستان د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر تر یوولسمې پورې، چې په امریکا کې بریدونه کېدل، په زغرده د طالبانو د رژیم ملاتړ کاوه.
امریکا او طالبانو په قطر کې څو ځلې خبرې کړې خو محمد صادق وایي چې طالبان باید خپل دریځ څرګند کړي چې یوازې د خپلو بندیانو د خلاصون لپاره خبرې کوي او که په رښتیا د سولې په فکر کې دي.
د قطر له خبرو وروسته، چې د طالبانو په لیکو کې یې بې اعتمادي او اختلاف رامنځته کړ، د طالبانو مشرانو وویل چې دوی یوازې د بندیانو د تبادلې لپاره خبرې کړې وې.
د پاکستان سفیر همداراز وویل، طالبان فکر کوي چې خبرې د دوی په منځ کې د اختلافاتو هدف لري، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا ادعا رد کړې ده.
محمد صادق د افغانستان د سولې په خبرو کې د پاکستان د رول په اړه وویل چې دوی یوازې طالبانو ته اجازه ورکړې وه چې د پاکستان له لارې قطر ته لاړ شي.
ده وویل چې لا هم ډېر امریکایان او افغانان په افغانستان کې د سولې په مسله کې د پاکستان هڅو ته د شک په سترګه ګوري.
افغان چارواکو شکایت کړی چې پاکستان نه پرېږدي چې افغان دولت د طالبانو له مشرانو سره ووینې.
پاکستان د طالبانو د مشر مرستیال ملابرادر وروسته له دې ونیوه چې د دغه هیواد له اجازې پرته یې د افغانستان له حکومت سره پټ تماسونه نیولي وو.
افغان چارواکي وایي چې د پاکستان حکومت ګڼ نور طالب قومندانان هم په دې خاطر نیولي چې غوښتل یې له خپل حکومت سره تماس ونیسي.
د دغو قومندانانو په منځ کې یو هم د غزني قومندان ملا اسماعیل دی چې لا هم د طالبانو په وینا (د پاکستان په نامالوم ځای کې) بندي دی.

امریکا په افغانستان کې د خپل ...

خوراکي مواد دومره ګرانه تمام شي.
سوپریم ګروپ د افغانستان په ۲۵ سیمو کې امریکایي پوځیانو ته خواړه، اوبه او ځینې نور شیان رسوي.
له سوپریم ګروپ سره د امریکا د پوځ قرارداد د سږ کال په دسمبر کې پای ته رسېږي، او د امریکا دفاع وزارت د لوژیستیکي چارو اداري د تېرې جمعې په ورځ وویل چې له یوه بل شرکت سره یې، چې په دوبۍ کې دېره دی، د ۸ ملیارده او ۱۰۰ ملیون ډالرو په ارزښت قرارداد لاسلیک کړی دی.
پر دې سربېره د پینټاګون لوژیستیکي اداري له سپریم شرکت سره یو موقت قرارداد لاسلیک کړی چې د هغه ارزښت یونیم ملیارد ډالره اټکل کېږي.
د دغه نوي قرارداد له مخې به سپریم شرکت تر هغو چې نوی شرکت خپل کار پیلوي، په افغانستان کې امریکایي پوځیانو ته د خوراکي موادو لېږد چټکوي.
پینټاګون وایي چې له نوبو ترتیباتو سره سم به په افغانستان کې امریکایي پوځیانو ته د خوراکي موادو په رسولو کې هیڅ راز خنډ نه پېښېږي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه سترديږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com